مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۰٦** (از ۱٦ الی ۲۳ ثور ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲
**د افغانستان په بهرني سياست کې د ايران ځای ........................ ۳**
له ايران سره د افغانستان اړيکې ........................................ ۴
په افغانستان کې د ايران اوسنی رول........................................ ۵
کابل ته د جواد ظريف سفر او د کابل-تهران راتلونکې اړيکې ........................................ ٦
**فقر و بی‌کاری دو چالش عمدۀ افغان‌ها ........................ ۸**
فقر در افغانستان ........................................ ۹
بی‌کاری در افغانستان ........................................ ۱۰
عوامل بی‌کاری و فقر ........................................ ۱۱
راه‌کارهای مبارزه با بی‌کاری و فقر ........................................ ۱۱
**اکاډميک بحث: د سيمې جيوپوليټيک بدلونونه او پر افغانستان يې اغېزې ........... ۱۳**

## مقدمه


تیره یکشنبه د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف د یوه لوړپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ کابل ته راغی او د سفر موخه یې د دوه‌اړخیزو اړیکو پیاوړي کول وو. ظریف له افغان چارواکو سره په ملاقاتونو کې ټینګار وکړ، چې ایران به له افغانستان سره د اوبو د مدیریت، ترانزیټ، اقتصاد او پراختیایي برخو کې همکاري وکړي. خو دا سفر داسې مهال کېږي چې په دې وروستیو کې د افغانستان د ملي شورا له‌خوا تهران له وسله‌والو طالبانو سره په مرستو، د سوریې جګړې ته د افغانانو په لېږلو، د اوبو د بندونو پر وړاندې د خنډونو جوړولو او د افغانستان په اړه په ځینو نورو لاسوهنو تورنېږي.

دا چې د کابل-تهران اړیکې په تېر کې او په ځانګړي ډول په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې څه ډول وې؟ ایران په افغان قضیه کې څه رول لوبوي او د دغو اړیکو راتلونکی په کومو مسایلو پورې تړلی دی؟ د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل دویمه برخه مو په افغانستان کې د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ وضعیت ته ځانګړې کړې ده. تېره اوونۍ نړیوال بانک او افغان دولت یو ګډ راپور خپور کړ، چې له مخې یې په افغانستان کې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ زېږدي کلونو پرمهال د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ وضعیت څېړل شوی دی. دغه راپور ښيي چې په دغو کلونو کې د بې‌وزلۍ او بې‌کارۍ کچه لوړه شوې ده. خو دا چې په افغانستان کې د فقر او بې‌کارۍ لوړه کچه د کومو مهمو عواملو له کبله ده او څه لارې چارې به د دغې کچې په راټیټولو کې رول ولري، په دغه تحلیل کې پرې شننه شوې ده.

د تحلیل په وروستۍ برخه کې هم د پنجشنبې په ورځ د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له‌خوا «د سیمې جیوپولیټیک بدلونونه او پر افغانستان یې اغېزې» تر عنوان لاندې جوړ شوي اکاډمیک بحث راپور لولئ، چې د دریو تحقیقاتي مرکزونو مشرانو پکې د دغې موضوع پر بېلابېلو اړخونو ویناوې وکړې.

# د افغانستان په بهرني سياست کې د ايران ځای



تېره اوونی (د ثور ۱۷مه ۱۳۹۵) د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف افغانستان ته په یوه رسمي سفر راغی او له افغان ولسمشر اشرف غني، پخواني ولسمشر حامد کرزي، اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله او د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني سره یې وکتل.

دا سفر داسې مهال کېږي، چې له یوې خوا ایران په افغانستان کې د داعش ډلې له فعالیتونو په وېره کې دی، له افغان طالبانو سره یې اړیکې پراخې شوې دي، د حزب اسلامي مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار له افغان دولت سره د سولې له مذاکراتو او تړون وروسته کابل ته راغلی او له بلې خوا په سیمه‌ییزه کچه ایران د افغانستان په تړاو د (روسیې، چین او پاکستان) بلاک ته په نږدې کېدو دی او په ایران کې به هم دوې اوونۍ وروسته ولسمشریزې ټاکنې ترسره شي.

دا چې د افغانستان په بهرني سیاست کې ایران څه ډول ځای لري، د ایران په بهرني سیاست کې کابل ته څومره پاملرنه کېږي او د افغانستان په اوسني داخلي سیاست کې د دغه هېواد رول څه دی؟ هغه پوښتنې دي، چې په دې تحلیل کې پرې شننه شوې ده.

## له ایران سره د افغانستان اړیکې

په تاریخي توګه د افغانستان په بهرني سیاست کې ایران ته د افغانستان د نورو ګاونډیانو په پرتله له دغه هېواد څخه د یرغل د ګواښ له کبله او د یوه داسې ګاونډي په توګه، چې د ژبې او کلتور له لارې ورسره نږدې دی، ځانګړې پاملرنه شوې ده. د سړې جګړې پرمهال افغان حکومت له ایران سره نږدې اړیکې درلودې؛ په افغان-پاک اړیکو کې یې د منځګړي رول ولوباوه او د مرستو له لارې یې هم پر افغانستان اغېزه وښندله. له شوروي سره د افغان جګړې پرمهال هم، د افغان کمونستانو په حکومتونو کې له افغان مجاهدینو څخه د ایران د ملاتړ له کبله اندېښنې وې. د کورنۍ جګړې پرمهال هم، په پیل کې د استاد رباني د حکومت او ایران ترمنځ اړیکې د شیعه ډلو له کبله خرابې وې؛ خو کله چې د افغانستان په سیاسي پرده طالبان راڅرګند شول، دا اړیکې ښېرته تودې شوې.

له ۲۰۰۱ کال وروسته، ایران د سړې جګړې د مهال په څېر د افغانستان په بهرني سیاست کې مهم ځای لرلی؛ ځکه په ایران کې بې‌شمېره افغان کډوال مېشت دي. د افغانستان په تېرو جګړو کې یو له مهمو لوبغاړو څخه و او د افغانستان لپاره د ترانزیټي او سوداګریزو لارو یو بدیل هم دی.

د اشرف غني له ولسمشر کېدو سره، د افغانستان د بهرني سیاست په تړاو د پنځو کړیو تګلاره وړاندې شوه، چې ایران په درېیو دغو کړیو کې ځای درلود (ګاونډیان، اسلامي نړۍ، اسیایي هېوادونه)؛ خو له دې سره سره، د ملي یووالي حکومت پرمهال له ایران سره افغان حکومت سړې اړیکې لرلې. تر شا یې عمده لاملونه له طالبانو سره د ایران اړیکې، د ایران او سعودي په تړاو د کابل تګلاره، په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور او د اوبو پر سر خبرې اترې وې.

په بل اړخ کې، له وروستیو څو لسیزو راهیسې ایران افغانستان ته د امنیتي او اقتصادي ګټو له کبله پاملرنه کړې. دغه راز په یو شمېر اقتصادي پروژو کې د ایران رقیب هم پاتې شوی (د ټاپي پروژه). تېر کال (۱۳۹۵) چې ایران او د نړۍ شپږ قدرتونه (۱+۵) د دغه هېواد د اتومي پروګرام په تړاو له اوږدو خبرو اترو وروسته، بالاخره د سرطان په ۲۳مه د اتریش په پلازمېنه ویانا کې په یوه تاریخي توافق سره سلا شول، له کبله یې له ایران څخه نړیوال بندیزونه لرې شول او دغه حالت یو ځل بیا ایران ته یو شمېر نوي فرصتونه رامنځته کړل. د بېلګې په توګه په یو شمېر لویو پروژو کې کار کول، په ایران کې د بهرنیانو له‌خوا پانګونې او داسې نور. همدا لامل دی، چې د چابهار بندر، پنځه-ملیتي رېل پټلۍ او اوس له افغانستانه چین ته د ایران د انرژۍ نللیکې تېرولو په تړاو هم لېوالتیا زیاتېږي.

## په افغانستان کې د ایران اوسنی رول

د ملي یووالي حکومت پرمهال په افغانستان کې د ایران رول د حامد کرزي د دورې په پرتله بدلون وموند. د حامد کرزي د دورې پرمهال د ایران افغان تګلاره تر ډېره د افغان حکومت، په افغانستان کې د رسنیو، تلویزونونو، راډیوګانو، تحصیلي برسونو او نورو ابزارو له لارې د خپل نرم ځواک پر زیاتولو او په حکومت او له حکومته بېرون د شیعه ډلو پر ملاتړ راڅرخېدله؛ خو اوسمهال د ایران تګلارې د شیعه ډلو له ملاتړ پرته په نورو برخو کې تر څه حده بدلون موندلی، چې په لاندې برخو کې ورته اشاره شوې:

**له داعش ډلې وېره:** په منځني ختیځ کې د داعش ډلې ظهور تر ټولو زیات د ایران او ایران‌پلوه ډلو او حکومتونو پرضد و. له همدې ځایه، ایران د خپلې "منځني ختیځ" تګلارې له کبله په عراق او سوریه کې له داعش ډلې سره ښکېل شو. وروسته، په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور او بیا د سُنیانو ترڅنګ په متواتر ډول د شیعه‌ګانو په نښه کول ایران هم اندېښمن کړ. دا اندېښنه د دوو لاملونو له کبله وه:

لومړی؛ دا چې په افغانستان کې یې حلیفان په نښه کېدل؛

دویم؛ دا چې د داعش ډلې ګواښ په خپله ایران ته هم متوجه و او دی.

**له افغان طالبانو سره اړیکې:** د ملي یووالي حکومت پرمهال په لومړي ځل او په رسمي توګه د افغان طالبانو او ایران ترمنځ اړیکې پراخې شوې. د طالبانو د قطر سیاسي دفتر غړي په ایران کې یوه اسلامي کنفرانس ته وغوښتل شول او بیا وروسته د طالبانو پخواني مشر ملا اختر محمد منصور هم ایران ته څو ځله سفرونه وکړل. له ایران سره د طالبانو همدا نږدې اړیکې وې، چې په تدریج سره یې له سعودي څخه لرې کړل. دا ټول د تهران او د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر ترمنځ د نږدې اړیکو ښکارندوی دي؛ خو دا چې له افغان طالبانو سره د ایران اړیکې ولې نږدې شوې، دوه عمده لاملونه لري:

لومړی؛ په افغانستان کې د امریکا اوږدمهاله حضور او په سیمه کې د امریکا تته تګلاره ده چې سیمه‌ییز هېوادونه یې اندېښمن کړي دي.

دویم؛ په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور او په تړاو یې د دوو سازشي نظریو ظهور دی، چې له مخې یې امریکا او افغان حکومت د داعش ډلې تر شا ګڼل کېږي.

**په سیمه‌ییزو سیاستونو کې برخه اخیستل:** د ملي یووالي حکومت پرمهال په سیمه کې د جیو-پولیټیکو بدلونونو له کبله د ایران حکومت هم د افغانستان د قضیې په تړاو په تدریجي توګه د روسیې، چین او پاکستان په لور روان دی. دغه حالت او وضعیت د افغان حکومت لپاره د منلو وړ نه دی. همدا لامل و، چې د مسکو پر لومړۍ ناسته یې نیوکې وکړې او د جواد ظریف په وروستي سفر کې یې هم ایران ته روښانه کړه، چې د افغانستان ثبات باید د سیمه‌ییز رقابت قرباني نه شي.

**له افغان حکومت سره سړې اړیکې:** د ملي یووالي حکومت پرمهال د افغان حکومت او ایران ترمنځ اختلافي ټکي په لاندې ډول وو:

لومړی؛ د کابل او تهران ترمنځ د اوبو پر سر د خبرو اترو پیل. د افغان حکومت په اند په دې اړه پخوا تړون لاسلیک شوی؛ خو د ایران حکومت بیا ادعا کوي، چې پخوانی تړون بیا کتنې ته اړتیا لري. دا چې آیا د اوبو د وېش پر سر به بیا خبرې اترې پیل شي کنه، تراوسه معلومه نه ده؛ خو بیا به هم په ټوله کې د راتلونکو دوه‌اړخیزو اړیکو ښودونکې وي.

دویم؛ د افغانستان او ایران ترمنځ د ستراتېژیک تړون د لاسلیک ځنډېدل. لا تراوسه دواړو لورو د دغه تړون د مسودې چمتو کولو په تړاو کاري کمیټه نه ده معرفي کړې.

درېیم؛ په ایران کې افغان کډوال: په ایران کې پر کډوالو زیاتی، د سوریې جګړې ته یې استول او په زوره بېرته هېواد ته راستنول هغه اختلافي موضوعات دي، چې پر دوه‌اړخیزو اړیکو یې اغېزه ښندلې ده. اوسمهال تقریباً په ایران کې تر ۳ میلیونو پورې افغان کډوال مېشت دي.

څلورم؛ د داعش ډلې د ظهور له کبله د افغان حکومت پرځای له افغان طالبانو سره اړیکې جوړول.

## کابل ته د جواد ظریف سفر او د کابل-تهران راتلونکې اړیکې

کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر د سفر پرمهال افغان او ایراني لوړپوړو چارواکو په یو شمېر داسې موضوعاتو خبرې اترې وکړې، چې په راتلونکو دوه‌اړخیزو اړیکو به ژورې اغېزې وښندي. خو په بل اړخ کې، که چېرې دوه اونۍ وروسته په ایران کې د ولسمشریزو ټاکنو له لارې د ایران د اوسني ولسمشر پرځای کوم بل څوک راغی، نو دا سفر به په یو شمېر موضوعاتو کې د افغان-ایران د اړیکو پر راتلونکې هېڅ اغېزه ونه شي ښندلای. په ټوله

کې د دغه سفر پرمهال د ایران لهخوا د اوبو د وېش تړون د بیا کتنې پر اړتیا ټینګار وشو. ترڅنګ یې دواړو لورو ژر تر ژره د ستراتېژیک تړون د مسودې او متن چمتو کولو په موخه د کاري کمیټو د معرفي کولو غوښتنه وکړه.

افغان حکومت د وروستیو پرمختګونو په تړاو خپل دریځ ایران ته روښانه کړ او ترڅنګ یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ ډګرونه هم په نښه کړل. افغان ولسمشر اشرف غني د ایران له بهرنیو چارو وزیر سره د کتنې پرمهال وویل: «تروریستي ډلې زموږ ګډ دښمنان دي. تروریستان په خپله غېږ کې نه نیسو او د وسیلې په توګه یې هم نه کاروو». د ده په خبره «د افغانستان روانه جګړه داخلي جګړه نه ده... د داعش پر وړاندې مو جدي اقدامات ترسره کړي... موږ ته د افغانستان ثبات او د سرحدونو امنیت ځانګړی ارزښت لري... د افغانستان ثبات باید د سیمهییز رقابت قرباني نه شي».

د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ د زیاتولو په موخه افغان حکومت له ایران څخه وغوښتل، چې د اقتصادي کډوالۍ او قاچاق د مخنیوي په موخه افغان کارګرو ته د کار قانوني اجازهنامې ورکړي. د افغانستان له لارې ایران له ازبکستان او چین سره وصل شي. د چابهار بندر (ترانزیټ) رېل پټلۍ او د سرحدونو په برخه کې همکاري وشي.

په ټوله کې د کابل-تهران راتلونکې اړیکې له لاندې ټکو سره تړل شوې دي:

لومړی؛ د داعش پرضد د افغان حکومت عملیات او د سیمهییزو هېوادونو اندېښنې لرې کول، چې د دې ډلې ترشا افغان حکومت او امریکا نه دي؛

دویم؛ له افغان طالبانو سره د ایران اړیکې؛

درېیم؛ د افغانستان او سیمې په تړاو د امریکا راتلونکې تګلاره؛

څلورم؛ د یو شمېر اختلافي موضوعاتو په تړاو خبرې اترې (د بېلګې په توګه د اوبو د وېش تړون).

# فقر و بی‌کاری دو چالش عمدۀ افغان‌ها



بانک جهانی و دولت افغانستان مشترکاً گزارش وضعیت فقر و بی‌کاری در سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان را به نشر رسانیده است. این گزارش که به تاریخ ۸ ماه می ۲۰۱۷م منتشر شد، نشان‌دهندۀ افزایش میزان فقر و بی‌کاری در کشور است و می‌نگارد که در این سال‌ها از تمام نفوس افغانستان یک میلیون و سه صد هزار تن به افرادی که زیر خط فقر زنده‌گی می‌کنند و کمتر از ۱,۲۵ دالر درآمد روزانه دارند، پیوسته اند.

در این گزارش تعداد افراد بی‌کار در سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ بیشتر از ۱,۹ میلیون تن تخمین زده شده که شمار قریه‌نشینان در آن نظر به مناطق شهری دو برابر می‌باشد. در گزارش همچنان گفته شده که با خروج نیروهای خارجی از افغانستان، کمک‌های بین‌المللی نیز با افغانستان کاهش یافت و این یکی از عوامل مهم افزایش فقر و بی‌کاری در افغانستان بوده است.

وضعیت فقر و بی‌کاری در افغانستان، عوامل آن و راه‌کارهای مبارزه برای کاهش فقر و بی‌کاری در کشور، موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## فقر در افغانستان

فقر یک معضل اجتماعی است که در سراسر جهان میلیون‌ها انسان از این پدیده رنج می‌برند. کشورهای افریقایی و آسیای جنوبی از جمله کشورهای اند که بیشترین مردم فقیر را دارند. افغانستان نیز از جمله کشورهایی است که با این معضل دست و پنجه نرم می‌کند و یکی از کشورهای است که درآمد کم دارد و به همین دلیل میزان فقر میان مردم آن، بلند است.

هرچند آمار دقیقی در مورد میزان فقر در افغانستان در دست نیست، ولی در کل با تجاوز شوروی بر خاک افغانستان و آغاز جنگ‌های داخلی، میزان فقر در کشور بلند رفته است. در آن زمان افرادی زیادی به کشورهای همسایه مهاجر شدند و کاروبارها و سرمایه‌های خویش را از دست دادند.

در سال ۲۰۰۱م با ورود نیروهای بین‌المللی به افغانستان، میلیاردها دالر نیز به افغانستان سرازیر شد و در برخی سکتورها پیشرفت‌هایی نیز دیده شد، اما نظر به ارقام بانک جهانی، فقر در افغانستان نظر به میزان فقر در جهان ثابت مانده و تا هنوز کاهشی در آن نیامده است.

در سال‌های ۲۰۰۷ و ۲۰۰۸ میلادی ۳٦٫۳ درصد نفوس افغانستان زیر خط فقر زنده‌گی می‌کردند. اما در سال‌های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲م نظر به گزارش بانک جهانی، این فیصدی به ۳۵٫۸ درصد کاهش یافت که کاهش چشم‌گیری شمرده نمی‌شود. ولی در گزارش تازهٔ بانک جهانی و دولت افغانستان که از سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی تهیه گردیده، این وضعیت دوباره رو به خرابی نهاده و فیصدی فقر در این سال‌ها از ۳۵٫۸ درصد دوباره به ۳۹٫۱ در صد افزایش یافته است.[1]

در گزارش مشترک بانک جهانی و دولت افغانستان، دلیل افزایش میزان فقر در افغانستان، کاهش کمک‌های بین‌المللی، بحران بی‌کاری، بحران داخلی و گسترش جنگ در کشور عنوان شده است. این در حالی است که بعد از سال ۲۰۱۴م همه‌ساله در مناطق مختلف کشور جنگ رو به شدت است، بی‌جاشده‌گان داخلی به گونهٔ بی‌پیشینه افزایش یافته است، صدها هزار مهاجر افغان از کشورهای دیگر بخصوص پاکستان و ایران به کشور خود برگشته اند و ده‌ها هزار جوان افغان نیز به دلیل میزان بلند بی‌کاری در کشور مجبور به ترک خاک خود شده‌اند. به همین دلیل -باوجود نبود ارقام دقیق فقر در حال حاضر- به نظر می‌رسد که این معضل نسبت به سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ اکنون بیشتر شده است.

[1] The world bank, http://www.worldbank.org/en/news/press-release/2017/05/08/poverty-afghanistan-rose-amidst-troop-withdrawal-poverty-update-2017

## بی‌کاری در افغانستان

فردی که در اجتماع قادر به کار کردن باشد و قدرت لازم برای کار کردن داشته باشد، اما فرصتی برای کار نداشته باشد، بی‌کار خوانده می‌شود. بی‌کاری نیز یکی از چالش‌های مهم مردم افغانستان شمرده می‌شود که بطور مستقیم با امنیت کشور نیز رابطه دارد. در طول یک‌ونیم دهۀ گذشته با وجود ملیاردها دالر کمک جامعۀ جهانی، برای اشتغال‌زایی درازمدت در کشور، کار لازم صورت نگرفته است.

برنبیاد آمار بانک جهانی، از مجموع قوۀ کاری در افغانستان ۴٫٦ درصد آنان در سال ۲۰۰۱ میلادی بی‌کار بودند. در سال‌های ۲۰۰۲ و ۲۰۰۳ میلادی این رقم به ۴٫٦ و ۴٫۹ درصد رسید. در سال ۲۰۰۴ میلادی درصدی بی‌کاری در کشور به ۴٫۵ نزول کرد، ولی در سال ۲۰۰۵ بار دیگر به ۸٫۵ درصد افزایش یافت و از آن ببعد نرخ بی‌کاری در افغانستان روبه افزایش بوده است.[2]

در سال ۲۰۱۴ میلادی وزارت کار، امور اجتماعی، شهداء و معلولین افغانستان اعلام کرد که از جمله ۱۰ میلیون افراد واجد شرایط کار در افغانستان، حدود ۸۰۰ هزار آن در بی‌کاری مطلق به سر می‌برند.[3] ولی آمار تازۀ بانک جهانی نشان می‌دهد که در سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی نزدیک به دو میلیون نفر در افغانستان بی‌کار بودند که بیشتر آنها را جوانان و زنان تشکلیل می‌دادند.

در این حال، وزارت اقتصاد افغانستان اعلام کرده است که وضعیت فقر –که ارتباط مستقیم با بی‌کاری دارد– در سال‌های پس از ۲۰۱۴م رو به بهبود است و در سال‌های ۲۰۱۵ و ۲۰۱٦ با رشد اقتصادی کشور، میزان فقر و بی‌کاری نیز رو به کاهش است. ولی بانک جهانی در گزارش خود گفته است که سالانه ۴۰۰ هزار نفر به نیروی کار در افغانستان افزوده می‌شود و از سوی دیگر دیده می‌شود که از سال ۲۰۱۴م جنگ در کشور روبه گسترش است و اکنون براساس گزارش اخیر سیگار، ۴۰ درصد خاک افغانستان تحت کنترول مخالفین مسلح دولت می‌باشد و در کنار آن رکود اقتصادی در کشور نیز نگرانی از افزایش بی‌کاری را بیشتر کرده است.

---

[2] «افغانستان په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې»، گزارش تحقیقی و تحلیلی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی در مورد وضعیت یک‌ونیم دهۀ گذشته، صفحه: 229، سال چاپ: 1395 هـ ش.

[3] بی بی سی فارسی، نگاهی به وضعیت کار و کارگر درافغانستان:
http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/05/140502_k05_afghan_worker_day_law

## عوامل بی‌کاری و فقر

ناامنی‌ها و ادامهٔ جنگ در کشور و نیز عدم سرمایه‌گذاری در بخش‌های زیربنایی که قدرت جذب نیروی کار را دارند، افغانستان را با بحران بی‌کاری و فقر مواجه کرده است. در کنار این کم‌کاری، فساد اداری، ضعف حکومت و ناتوانی وزارت‌خانه‌ها در مصرف بودجهٔ انکشافی نیز باعث شده تا صدها هزار جوان تحصیل کرده در بی‌کاری به سر برند و در ادارات حکومتی ده‌ها هزار بست کاری خالی باشد و یا هم کارکنان خیالی وجود داشته باشند.

علاوه بر این، با خروج بخش بزرگ نیروهای خارجی از افغانستان، کمک‌های جامعهٔ جهانی با افغانستان نیز کاهش یافت. از آنجاییکه در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته از ملیاردها دالر کمک جامعهٔ جهانی در اشتغال‌زایی‌های درازمدت استفادهٔ بهینه صورت نگرفت، زمانی که این کمک‌ها کاهش یافت شرح بی‌کاری در کشور نیز به سرعت بالا رفت. ده‌ها هزار افغانی که با نیروهای خارجی و یا مؤسسات خارجی مشغول کار بودند، نیز به جمعیت بی‌کاران افزوده شدند.

در همین سال‌ها، با شدت جنگ و افزایش ناامنی‌ها، بگونهٔ بی‌پیشنه در داخل کشور ده هزار خانواده مجبور به ترک خانه‌های خود شدند. سرازیر شدن بی‌جاشده‌گان داخلی به شهرها نیز عامل دیگر از افزایش فقر وبی‌کاری می‌باشد، چون اکثریت آن‌ها سرمایه‌ها و در آمدهای عادی خویش را از دست دادند.

## راه‌کارهای مبارزه با بی‌کاری و فقر

کاهش نرخ بی‌کاری و فقر نیاز به اشتغال‌های درازمدت دارد که با توسعهٔ صنعت رابطهٔ مستقیم دارد. در حالیکه از صنعت به عنوان محور اصلی اقتصاد کشورها نام برده می‌شود و این سکتور در رشد اقتصادی و کاهش میزان بی‌کاری و فقر نقش مهم دارد، حکومت افغانستان توجه لازم به آن نکرده است.

از سوی دیگر، افغانستان یک کشور زراعتی است و زراعت این کشور در اقتصاد آن نقش حیاتی دارد. در سال ۱۳۹۴ هـ ش حدود ۴۰ درصد از قوهٔ کار افغانستان در زراعت مشغول بودند و درآمد خود را از همین سکتور به دست می‌آوردند. اگر حکومت برای محصولات زراعتی کشور در زمینهٔ ترانزیت، پیدا کردن بازار مناسب، بلند بردن کیفیت، پروسس و بسته‌بندی، توزیع کود کیمیاوی و تخم اصلاح شدهٔ زراعتی برای دهاقین، توجه کند و

از تولیدات داخلی حمایت نماید، سکتور زراعت می‌تواند با رشد اقتصادی و مبارزه با بی‌کاری و فقر نقش مهمی را ایفاء نماید.

در کُل اگر یک کشور دارای رشد اقتصادی بیشتر باشد، علاوه بر اینکه باعث ایجاد شغل، دریافت درآمد و بهبود رفاه اجتماعی آن کشور شده می‌تواند، بلکه به نحوی روی سایر مسایل چون امنیت و صلح، حکومتداری خوب، مبارزه با فساد اداری و ثبات سیاسی نیز تاثیرگذار می‌باشد. در جانب دیگر، معضل بی‌کاری و فقر در کشور نیز مانند هر برنامهٔ دیگر نیاز به تامین صلح در کشور دارد و تا زمانی که صلح و امنیت تامین نگردد، تلاش‌ها در زمینهٔ اقتصادی نیز نتیجهٔ آنچنانی را در پی نخواهد داشت.

# اکاډمیک بحث: د سیمې جیوپولیټیک بدلونونه او پر افغانستان یې اغېزې




له تېرو څو کلونو راهیسې په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د جیوپولیټیکو بدلونونو شاهد یو. په ځانګړي ډول زموږ په سیمه کې داسې ښکاري چې له تېرو دوو کلونو راهیسې د سړې جګړې د دوران په څېر، اوس یو ځل بیا دغه سیمه په دوو بلاکونو وېشل کېږي؛ خو دا ځل یې توپیر دا دی چې د دغو بلاکونو ترشا د ایډیالوژۍ پر ځای د سیمې بدلېدونکی وضعیت او بدلېدونکې ګټې نغښتې دي. ظاهرا داسې ښکاري چې لومړی بلاک د امریکا او ملاتړو هېوادونو دی او دویم بلاک هم د روسیې او ورسره د ملاتړو هېوادونو له‌خوا جوړېږي.

دا چې افغانستان تل د سیمې له جیوپولیټیکو بدلونونو څخه په ژوره توګه اغېزمن شوی، بلکې یوه مهمه برخه یې افغانستان پاتې شوی، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز (CSRS) د دغې موضوع اهمیت ته په کتلو سره دا ځل د اکاډمیک بحثونو په لړۍ کې، پر همدې موضوع علمي سمینار جوړ کړی و. دغه سمینار د چارشنبې په ورځ (د مې۱۰مه ۲۰۱۷) په کابل کې د دغه مرکز په دفتر کې د لسګونه علمي شخصیتونو په ګډون جوړ شوی و او **د دریو تحقیقاتي مرکزونو مشرانو د موضوع پر بېلابېلو اړخونو څېړنیزې او هر اړخیزې ویناوې وکړې.**

لومړي ویناوال او د شخړې او سولې د مطالعاتو مرکز (CAPS) مشر **حلیم الله کوثري** د سیمې او نړۍ په کچه د جیوپولیټیکو بدلونونو پر شالید او د جیوپولیټیک له نظره د سیمې او نړۍ پر اوسني وضعیت خبرې وکړې.

نوموړي د ځواک د وېش له مخې د نړۍ وضعیت د تاریخ په اوږدو کې په (یو قطبه، دوه قطبه، درې قطبه او څو قطبه) څلورو ډولونو ووېشه او د څو قطبه نظام یوه بېلګه یې له دویمې نړیوالې جګړې وړاندې دوران وباله، چې امریکا، جاپان، جرمني، اېټالیا او نور هېوادونه پکې وو. خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په نړۍ کې سړه جګړه پیل شوه او نړۍ دوه‌قطبه شوه، چې یو پکې د امریکا تر مشرۍ لاندې غربي بلاک و او بل یې هم د روسیې تر مشرۍ لاندې شرقي بلاک و. که څه هم دریم بلاک د ناپېیلو هېوادونو هم و، خو مهم ځکه نه و، چې اقتصادي او نظامي ځواک یې نه درلود.

د ده په وینا، د سړې جګړې کلمه له دویم نړیوال جنګ وروسته د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۵ کال کې د برېتانوي لیکوال "جورج اورول" له‌خوا وکارول شوه او مهمه ځانګړنه یې دا ده چې په دې ډول جګړه کې هېوادونه مستقیم نه جنګېږي، بلکې د نورو هېوادونو په کارولو سره د خپل سیال د ماتولو هڅه کوي، چې ښه بېلګه یې هم د افغانستان جګړه ده او کله چې شوروي په افغانستان کې ماتې وخوړه، سړه جګړه هم پای ته ورسیده.

ښاغلي کوثري په سیمه کې د اوسني جیوپولیټیک وضعیت په اړه وویل: دا مهال یوه بله ځانګړې جګړه یا (hybrid war) پیلېدونکې ده او دا چې امریکا دا مهال په سیمه کې نظامي حضور لري، ښایي تر ټولو ستر لوبغاړی به یې هم امریکا وي. د ده په خبره، د دا ډول جګړې ځانګړنه دا ده چې ځواکمن هېوادونه د خپلو رقیبانو د ځپلو لپاره هره ممکنه لاره کاروي. د بېلګې په توګه د طالبانو او روسیې اهداف په ټکر کې دي، خو په اوسني وخت کې د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره له طالبانو سره د اړیکو جوړولو په حال کې دي.

د ده په خبره، دا چې امریکا په عربي هېوادونو کې اډې لري، هلته نظامي حضور ته ډېره اړتیا نهویني، خو زموږ په سیمه کې یې اډې نه درلودې او دلته نظامي حضور ورته مهم دی. که څه هم د سیمې هېوادونه په ۲۰۰۱ کال کې پر افغان خاوره د امریکا له برید سره موافق وو؛ ځکه ایران، روسیې، چین او داسې نورو هېوادونو په افغانستان کې د طالبانو حکومت نه غوښت او هغه مهال تر ډېره په افغانستان کې فعال هم نه وو؛ خو له ۲۰۰۱ کال وروسته دغو هېوادونو خپل رول په افغانستان کې زیات کړ؛ مګر سره له دې هم اوس د دغو هېوادونو هڅه دا ده چې امریکا له دې سیمې ووځي.

د ده په وینا، په اوسني وخت کې په ځانګړي ډول په سیمه کې د داعش ډلې له راڅرګندېدو وروسته د سیمې هېوادونه دې پایلې ته رسېدلي، چې دلته د امریکا حضور نه یوازې دا چې "ترهګري" ځپلې نه ده، بلکې مرسته

يې هم ورسره کړې او زياته کړې يې ده. په سيمه کې يو مهم هېواد (چين) دا مهال د "يوه کمربند-يوه سړک" د پروژې پلي کېدو لپاره د افغانستان امنيت خورا مهم بولي او وېره لري چې په سيمه کې د امريکا حضور به د دوی د اقتصادي پلانونو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

د غونډې دويم ويناوال او د افغانستان د سيمه‌ييزو څېړنو مرکز (RSCA) مشر **رفيع الله نيازي** بيا د افغانستان په سياسي، اقتصادي او امنيتي وضعيت د راغلو او راتلونکو جيوپوليټيکو بدلونونو پر اغېزو خبرې وکړې. د ده په خبره، له جيوپوليټيکي لحاظه زموږ سيمه ډېره اغېزمنه شوې ده او ګڼې پديدې له منځني ختيځ، منځنۍ اسيا او سوېلي اسيا څخه دلته راغلې دي؛ خو پر افغانستان د دوو ګاونډيو هېوادونو ايران او پاکستان اغېزې زياتې دي.

د ده په خبره، پاکستان په افغانستان کې څلور هدفونه لرل: ۱-په افغانستان کې د پاکستان طرفدار حکومت. ۲-د هند د نفوذ نشتون (د افغانستان پر بهرني سياست کنټرول). ۳-د پاکستان د توليداتو لپاره مارکېټ جوړېدل. ۴-د افغان نشنلېزم له منځه وړل. خو په وينا يې چې دا مهال پاکستان هم خپلې ګټې په خطر کې ويني او د امريکا ترڅنګ د چين او روسيې په څنګ کې هم ولاړ دی، چې په مسکو کې وروستۍ درې اړخيزې ناستې يې ښه بېلګه ده. همدا راز دلته د ناامنۍ يوه زياته برخه د اوبو پر سر جګړه هم ده.

ښاغلي نيازي زياته کړه، چې په سيمه کې د (پاکستان، چين، روسيې+ايران) يوه بلاک او په بل پلو کې د (امريکا، هند او افغانستان) بلاک د هېواد لپاره ژورې اغېزې لرلی شي. له امنيتي پلوه دا ټول هېوادونه د افغانستان په قضيه کې دخيل دي او له اقتصادي پلوه هم د بېلګې په ډول افغانستان د ترانزيټ په برخه کې زيانونه ګالي. خو په عين وخت کې افغان حکومت امريکا ته اړ دی او د خپلو درنو لګښتونو لپاره بله لاره نه لري.

د رفيع الله نيازي په خبره، دا چې افغانستان نه په تېر کې او نه هم اوس د بهرني سياست لپاره مشخصې کرښې لرلې، ترڅنګ يې ملي ګټې هم نه دي تعريف شوې، د سيمې د هېوادونو (ايران-سعودي) او (پاکستان-هند) ترمنځ يې توازن نه دی ساتلی، چې له کبله به يې د دارنګه بدلونونو اغېزې ژورې وي.

دريم ويناوال او د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز (CSRS) مشر **دکتور عبدالباقي امين** بيا پر دې خبرې وکړې، چې د سيمې په جيوپوليټيکو بدلونونو کې افغانستان ته څه کول پکار دي. ښاغلي امين وويل، د سيمې او نړۍ له جيوپوليټيکو بدلونونو له منفي اغېزو نه يوازې دا چې ځان ژغورل کېدای شي، بلکې مثبته ګټه هم ترې اخېستل کېدای شي؛ خو اساسي شرط دا دی چې په افغانستان کې يوه همغږې اداره او قوي مرکزي

حکومت موجود وي. د ده په خبره، حکومت په داسې وضعیت کې باید د لابي جزیرې کمزورې بلکې ختمې کړي او له سیمه‌ییزو رقابتونو څخه مثبته ګټه واخلي.

نوموړي په خپلو خبرو کې ټینګار وکړ، چې تحقیقاتي مراکز کولی شي په ګډه حکومت ته په دارنګه مواردو کې د څېړنو او تحلیلونو پر بنسټ ولاړې مشورې ورکړي او دا مرکزونه باید د خپل ملي مکلفیت په توګه دې چارې ته پام وکړي.

د غونډې په وروستۍ برخه کې د ګډونوالو له‌خوا هم د پوښتنو او ځوابونو په برخه کې د موضوع پر بېلابېلو اړخونو بحثونه وشول.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.